قرآني بيان

# د اهلِ بيتو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د محبت فضيلت


د مَدَني مركزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي)

لاندي جوماتونو د پاره

پهٔ 19 جون، کال 2026ء

(متوقع اسلامي تاريخ: 3 محرم شريف، کال 1447ھ)

د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 19 جون، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 3 محرم شریف، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

په نوم

# د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُم د محبت فضیلت

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نِسبت برکتونه
- د سَیِّدانو صاحبانو سره د محبت فضیلت
- د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب موندونکے خوش قِسمته
- د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُم سره د محبت مختلف اندازونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم:

لَا تُصَلُّوْا عَلَيَّ الصَّلَاةَ الْبَتْرَاءَ فَقَالُوْا: وَمَا الصَّلَاةُ الْبَتْرَاءُ؟

قَالَ: تَقُوْلُوْنَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّتُمْسِكُوْنَ بَلْ قُوْلُوْا: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پۀ ما باندې نيمګړے درود مۀ لولئ! صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! نيمګړے دُرُود څنګه وي ؟ وه يـې فرمائيل: دا چې تاسو د اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ پورې ولولئ او بس کړئ! د دې پۀ ځائے داسې وايئ: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ۔ (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ آلِ پاک باندې دُرُود لوستل ډيره د سعادت خبره ده، علمائے کرام رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيهِم فرمائي: پۀ آل او اصحابو

[1]… صواعق المحرقة، الباب الحادی عشر فی فضائل اہل البيت النبوی، الفصل الاول، صفحه: 183۔

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم باندې دُرُود لیږل په دربار رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د قبلیدو وسیله ده او د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حُضُور کښې درود او سلام عرض کول، د الله پاک په دربار کښې د قبلیدو وسیله ده۔ (1)

| | |
|---|---|
| یا نبی (صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم) تم پہ بار بار سلام | بے عدد اور بے شمار سلام |
| عزّتِ اہلِ بیت پر صلوات | ہدیۂ روحِ چار یار سلام (2) |

دلته په یوه مسئله باندې ځان پوهه کړئ چې د فرښتو او نبیانو عَلَیْہِمُ السَّلام نه علاوه په چا باندې هم په مستقله توګه دُرُود لوستل جائز نهٔ دي، (3) په اهلِ بیتِ اَطهار، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم ، اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم وغیره باندې که درود لیږل وي نو د هغې طریقه دا ده چې وړومبے په نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود ولیږې، بیا د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تابِعیت کښې پکار دي چې د اهلِ بیتو، صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ، اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم وغیره ټولو ذِکر اوکړئ! مثلاً داسې ولولئ!

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وَاَوْلِیَاءِ مِلَّتِہٖ اَجْمَعِیْن۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

---

1 ...النبراس، صفحه:11۔

2 ...کافی کی نعت، صفحه:43 ملتقطًا۔

3 ...فتاوٰی رضویه، جلد:9، صفحه:518۔

قُلْ لَّاۤ اَسْــٴَـلُكُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰىؕ
وَ مَنْ یَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِیْهَا حُسْنًاؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ(۲۳)

(پارہ: 25، سورۂ الشُّوریٰ: 23)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ته وفرمايه: زهٔ پهٔ دې باندې تاسو نه څهٔ معاوضه نهٔ غواړم مګر د خپلوۍ محبت او څوک چې نيک کار اوکړي مونږ به د هغهٔ د پاره پهٔ هغې کښې نور ښه والے هم زيات کړو، بے شکه الله بخښونکے قدر کوونکے دے۔

## د مُحرَّم شريف د مياشتې فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مُحَرَّم شريف کومه چې د اِسلامي کال وړومبۍ مياشت ده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! شروع شوې ده، دې مقدسې مياشتې ته شَهرُ الله (يعنې د الله پاک مياشت) هم وئيلے شي او د دې دا نوم پهٔ حديثِ پاک کښې اِرشاد شوے دے، پهٔ مُسنَدِ اِمامِ اَحمد کښې دي، يو ځل يو کَس دربار رسالت ته حاضر شو، عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د رمضان نه علاوه زهٔ پهٔ کومه مياشت کښې روژې ونيسم؟ وه يې فرمائيل: که د رمضان (د فرض روژو نه علاوه نفلي) روژې نيول غواړې نو پهٔ مُحَرَّم الحَرام کښې يې ونيسه چې دا د الله پاک مياشت ده۔ (1)

---

[1]... مسند امام احمد، مسند العشرة المبشرين بالجنة، مسند علی بن ابی طالب، جلد: 1، صفحه: 427، حديث: 1335۔

حضرت اَبُو عثمان نهدي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: صحابۀ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان به د دريو عشرو ډير تعظيم کولو: (1): د رَمضَان د مياشتې د اخرۍ عشرې (يعنې د 10 ورځو) (2-3): د ذُو الـحِج او د مُحَرَّم د وړومبۍ عشرې (يعنې د وړومبو 10 ورځو)-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له هم پکار دي چې د دې 30 ورځو (يعنې د رمضان د اخرو 10 ورځو، د ذُو الـحِج او د مُحَرَّم د وړومبو 10، 10 ورځو، د دې) ◈ ښه ډير اِحترام اوکړو ◈ پۀ دې کښې نيک کارونه اوکړو ◈ عِلمِ دِين زده کړو ◈ پۀ خصوصي توګه پۀ دې کښې د ګناهونو نه ځان بچ کړو ◈ نفلي روژې ونيسو ◈ نفلي عبادتونه هم اوکړو-

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د مُحرم شريف پۀ وړومبو 10 ورځو کښې روزانه د شپې مَدَني مذاکره فرمائي (يعنې د سوالونو او جوابونو سلسله) کوي- دا مدني مذاکره پۀ مدني چينل نيغ پۀ نيغه (*Live*) ښودلے شي، تاسو هم پۀ دې کښې شرکت کوئ! اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم! عِلمِ دِين به زده کړئ، که ښه نيت مو وي نو د شپې د عبادت ثواب به درته ميلاؤيږي او د دِين او د دُنيا خيرونه به مو هم نصيب کيږي-

## د آيت مبارک مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ چې پۀ شروع کښې د کوم آيت مبارک د اوريدو سعادت حاصل کړو، هغه د 25 سيپارې، د سورۀ شُورىٰ آيت: 23 دے، حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُما فرمائي: کله چې نبي رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هجرت اوکړو او

[1]... لطائف المعارف، وظائف شهر الله الحرام، المجلس الاول، الفصل الاول، صفحه:48-

مدينے منورې ته يـې تشريف راوړلو نو اَنصار صحابۀ کرامو عَليهمُ الرِّضوَان وليدل چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ظاهري مال او اسباب هيڅ هم نشته۔

حالانکې دا د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِختياري فقر وو، که هغوئي غوښتلے نو غرونه به د سرو زرو شوي وو او د هغوئي سره به ګرځيدلے خو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا خوښه نۀ کړه، چا عاشق څۀ ښه وئيلي دي:

مالکِ کونین ہیں گو پاس کچھ رکھتے نہیں

دو جہاں کی نعمتیں ہیں، ان کے خالی ہاتھ میں[1]

غرض دا چې دا د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِختياري فقر وو خو اَنصار صحابۀ کرامو عَليهمُ الرِّضوَان چې کله دا انداز مبارک وليدو نو زړۀ يـې وغوښتل چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې څۀ مال د تحفې پۀ توګه پيش کړے شي، نو هغوئي پۀ خپل مينځ کښې پۀ شريکه ډير مال راجمع کړو او دربار رسالت ته يـې راوړلو، عرض يـې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ◈ هم تاسو يـی د چا پۀ وجه چې زمونږ هدايت نصيب شو ◈ هم ستاسو پۀ ذريعه مونږ د ګمراهۍ نه نجات موندلے دے، يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا زمونږ د خادمانو د طرف نه معمولي شان نذرانه ده، قبوله يـې کړئ! پۀ دې موقع دا آيت مبارک نازل شو،[2] الله پاک فرمائي:

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحہ:103۔

[2]... معجم کبیر، جلد:6، صفحہ:32، حدیث:12115 خلاصۃً۔

| | |
|---|---|
| قُلْ (پارہ: 25، سورۃالشُّورٰی: 23) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: تهٔ وفرمايه: |

څهٔ فرمائيل دي؟

| | |
|---|---|
| لَّاۤ اَسْــٴَـلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا (پارہ: 25، سورۃالشُّورٰی: 23) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: زهٔ پهٔ دي باندې تاسو نه څهٔ معاوضه نهٔ غواړم- |

يعنې اے زما صحابؤ! ◈ ما تاسو ته كلمه ووئيله ◈ تاسو مې د جهالت د تيارې نه راويستی او د اِسلام نُور مې در عطا كړو ◈ تاسو مې د ګمراهۍ د كندې نه راويستی او د هدايتونو شمع مې درنه جوړه كړه ◈ اوس هم تاسو ته شپه ورځ دِين ښايم ◈ ستاسو د بهترۍ، ترقۍ او د دُنيا او د اخرت د كاميابۍ د پاره مصروف يم- اے زما صحابؤ! پهٔ دې باندې زهٔ ستاسو نه هيڅ بدله نهٔ غواړم ◈ نهٔ ما ته د مال حاجت شته (ولې چې زهٔ پخپله قاسِم نعمت يم، چا ته چې څهٔ ميلاؤيږي، هم زمونږ د دَر صدقه ميلاؤيږي) ◈ نهٔ زما د اوچتو محلونو او د دُنيا د عيش او ارام خواهش شته (ولې چې زهٔ د رَبّ محبوب يم، د جَنَّت مالِك يم، زما د دې دُنيا سره څهٔ غرض)-

| | |
|---|---|
| اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰى ؕ (پارہ: 25، سورۃالشُّورٰی: 23) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: مګر د خپلوۍ محبت- |

يعنې زهٔ ستاسو نه پهٔ اُجرت كښې هيڅ نهٔ غواړم، آؤ! يوه خبره ده كومه چې (د تبليغ او د هدايت اُجرت نهٔ دے خو پهٔ تاسو لازم ضرور ده، هغه دا چې) زما د خپلوانو سره محبت

ساتئ! (1)

وَ مَنۡ یَّقۡتَرِفۡ حَسَنَۃً نَّزِدۡ لَہٗ فِیۡہَا حُسۡنًا ؕ اِنَّ اللّٰہَ غَفُوۡرٌ شَکُوۡرٌ ﴿۲۳﴾

(پارہ: 25، سورۂ الشُّوریٰ: 23)

[مفہوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او څوک چې نیک کار اوکړي مونږ به د هغهٔ د پاره پهٔ هغې کښې نور ښه والے هم زیات کړو، بے شکه اللہ بخښونکے قدر کوونکے دے۔

د آیت مبارک د دې حصې یو تفسیر، علمائے کرامو دا فرمائیلے دے چې کوم اِنسان نیکي اوکړي، کومه نیکي؟ د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلوانو سره د محبت نیکي--!! یعنې څوک چې د اهلِ بیتو سره محبت اوکړي، اللہ پاک به هغهٔ ته د نورو نیکو توفیق ورعطا کوي، بے شکه اللہ پاک بخښونکے، قدر کوونکے دے۔ (2)

قلب میں عشقِ آل رکھا ہے | خوب اِس کو سنبھال رکھا ہے
شکریہ تم نے آل کا صدقہ | میری جھولی میں ڈال رکھا ہے
کیوں جہنَّم میں جاؤں سینے میں | عشقِ اَصحاب و آل رکھا ہے (3)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې آیت مبارک کښې ◈ د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلوانو ◈ د هغوئي د اهلِ بیتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم ◈ د هغوئي د آل اولاد ◈

---

[1]… تفسیر بیضاوی مع حاشیہ شیخ زادہ، پارہ:25، سورۂ شوریٰ، زیرِ آیت:23، جلد:7، صفحه:420 و 421 خلاصةً۔

[2]… تفسیر بیضاوی مع حاشیہ شیخ زادہ، پارہ:25، سورۂ شوریٰ، زیرِ آیت:23، جلد:7، صفحه:422 مفصلًا۔

[3]… وسائلِ بخشش، صفحه:443 و 444 ملتقطًا۔

د هغوئي د ازواجِ مطهرات یعني زمونږ د مسلمانانو د پاکو مئیندو سره د محبت او د عقیدت ساتلو حکم راکړے شوے دے، په دې آیت مبارک کښې زمونږ د پاره د زدکړې 2 څیزونه دي:

## (1): د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نِسبت بے مثاله نِعمت دے

ورومبۍ خبره خو دا د زدکړې د پاره میلاؤیږي چې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نِسبت ډیر د کمال دولت دے- وګورئ چې د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلوانو محبت د ایمان په فرائضو کښې شامل کړے شوے دے، په دې کښې څۀ حِکمت دے، د دې څۀ وجه ده؟ صرف دا چې د هغوئي د رسولانو د سردار، د نبیانو د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره نِسبت او تعلق دے-

## د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نِسبت برکتونه

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [د والد محترم د اړخه] ترور ده: حضرت صفیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ، یو ځل هغې ته چا ووئیل: اے صفیه! د الله پاک په دربار کښې به د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم خپلولي تاسو له فائده نۀ درکوي- دا یــې چې واوریدل نو حضرت صفیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ډیره خفه شوه، شافعِ اُمَم، شاهِ عرب و عجم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې د دې خبرې نه خبر شو نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جلال کښې راغلو او حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته یــې وفرمائیل: اے بلاله! خلق راجمع کړه---!! بیا نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په منبر باندې تشریف فرما شو، د الله پاک حمد او ثنا یــې بیان کړه او وه یــې فرمائیل: څۀ حال دے د

هُغه خلقو کوم چې ګمان کوي چې زما قرابت (خپلولي) به فائده نهٔ ورکوي؟ د قيامت پهٔ ورځ باندې به هر سبب او نسب (نسبي او د سخر ګنیٰ رشتې) ماتې شي خو زما سبب او نسب،ولې چې هغه پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې پيوست دے۔ (1)

علامه سَيِّد اِبنِ عابِدِين شامي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: تقريباً هم د دې الفاظو حديث د ډېرو سندونو سره مروي دے او د دې نه علاوه نور هم ډېر حديثونه دي، د کومو نه چې ثابتيږي چې د رسولِ کريم، رؤف رحيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نسب به د هغوئي اولاد ته ضرور فائده رسوي، (اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم!) دوئي به د دُنيا نه پهٔ ښه حالت کښې رخصتيږي او پهٔ اخرت کښې به نجات مومي- بے شکه د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولاد مبارک پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې ډېر سعادت مند دے- (2)

سُبۡحٰنَ الله! دا شان دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نِسبت---!! د قيامت هُغه وحشت ناکه ورځ چې کله به تولې رشتې، دوستیٰ ماتې شي، مور به خپل نازبين اِک يو ځوي پريږدي، پلار به د ځوي نه لاس خلاصوي، څوک به پوښتنه نهٔ کوي چې څوک د چا ځوي او د چا ورور دے خو قربان شم! د اهلِ بيتِ پاک رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُم د شان نه چې د هغوئي پاک نسب هُغه مبارکه او مضبوطه رسیٰ ده، کومه چې هډو شليږي نهٔ ◈ دا نسب پهٔ دُنيا کښې هم قائِم دے ◈ پهٔ قبر کښې به هم قائِم وي ◈ پهٔ حشر کښې ◈ پهٔ ميزان باندې ◈ پهٔ پل صِراط باندې پهٔ هر ځائے کښې به پهٔ کار راځي-

---

[1]... مجمع الزوائد، کتاب علامات النبوة، باب فی کرامة ...الخ، جلد:8، صفحه:282، حديث:13827 خلاصةً۔

[2]... رسائل ابن عابدين، الرسالة الاولی، العلم الظاهر فی نفع النسب الطاهر، جلد:1، صفحه:27 خلاصةً۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نِسبت فیضان

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا صرف د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نِسبت فیضان دے، سَیِّدان صاحبان یعنې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قیامته پورې راتلونکے پاک اولاد--!! دوئي ته هٔغه شرف حاصل دے چې مونږ (کوم چې سَیِّدان نهٔ دي) که زرګونه کلونه د الله پاک بے رِیا عبادت اوکړو، ټول عمر پهٔ سجدو کښې تیر کړو، زمونږه هٔغه سعادت نشي نصیب کیدے، کوم چې سَیِّدانو صاحبانو ته حاصل دے ولې--؟ ځکه چې سَیِّدان صاحبان د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجود مبارک حصه دهٔ، د هغوئي پهٔ رګونو کښې ګرځیدونکې وینه د رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دهٔ، مونږ غیر سَیِّدانو ته دا سعادت حاصل نهٔ دے۔

## د سَیِّدانو صاحبانو یو څو خاصیتونه

◈ د مثال پهٔ توګه که سَیِّد صاحب (الله دې معاف کړي) بے نـمانځه ولې نهٔ وي، **هغوئي له زکوٰة ورکول حرام دي**، ولې؟ ځکه چې زکوٰة د مال خِیرے دے او سَیِّد صاحب د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولاد د نِسبت پهٔ وجه پاک دے، ځکه هغوئي له د مال خِیرے نشي ورکړے کیدے [(1)] ◈ الله پاک د سَیِّده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهَا پهٔ اولاد باندې دوزخ حرام کړے دے ◈ د قیامت پهٔ ورځ به د ټولو نه وړومبے د دوئي شفاعت کولے شي [(2)] ◈ دا پاک

---

[1]... مسلم، کتاب الزکاة، باب ترک استعمال آل النبي علی الصدقة، صفحه:387، حدیث:1072 ملتقطًا۔

[2]... معجم کبیر، جلد:6، صفحه:242، حدیث:13374۔

خلق د زمکې والؤ د پاره اَمان دے، [1] د څو پورې چې سَيِّدان صاحبان پۀ دُنيا کښې موجود دي، د هُغه وخته پورې به قيامت نۀ راځي، ځکه چې قيامت به پۀ بد ترينو خلقو باندې راځي او سَيِّدان صاحبان د ټولو نه پاک خلق دي [2] ۞ علامه محمود اَلوسي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډېره ښکلې خبره ليکلې ده، فرمائي: مونږ عام خلق (کوم چې سَيِّدان نۀ دي) چې کوم نيک کار هم اوکړو نو ضروري نۀ ده چې د الله پاک پۀ دربار کښې زمونږ اعمال قبول شي، رد کيدے هم شي خو دا د اهلِ بيتِ اَطهار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم شان دے، دا د سَيِّدانو صاحبانو خاصيت دے چې دوئي کوم نيک کار هم کوي ۞ نـمونځونه کوي ۞ روژې نيسي ۞ صدقه خيرات کوي، د دوئي دا نيک اعمال نۀ رد کيږي، د رَبّ پۀ حُضُور کښې قبليږي- [3]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! آيا دا نعمتونه بَل چا ته هم حاصل دي--؟ آيا دا خاصيتونه نورو له هم ورکړے شوي دي--؟ نۀ دي ورکړے شوي--! سَيِّدانو صاحبانو ته، اهلِ بيتِ پاک ته دا خاصيتونه څنګه حاصل شول؟ آيا د هغوئي د نـمونځونو پۀ وجه؟ آيا د هغوئي د روژو پۀ وجه؟ آيا د هغوئي د عبادتونو پۀ وجه؟ نا--!! نا--!! دا فيضان صرف او صرف د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نِسبت دے، اهلِ بيتو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ته دا خاصيتونه، دا اِنعامونه عطا کړے شول د دې وجه صرف دا ده چې دا پاک خلق د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلوان دي- ځکه خو مونږ وايو:

---

[1]... فضائل الصحابہ لامام احمد بن حنبل، فضائل علی، صفحہ:671، حدیث:1145۔

[2]... شرف المؤبد، فصل فی قولہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم (اہل بیتی امان لامتی)، صفحہ:54 خلاصۃً۔

[3]... روح المعانی، پارہ:22، سورۂ احزاب، زیر آیت:33، جلد:11، صفحہ:271 خلاصۃً۔

آپ کی نِسبت اے نانائے حُسَین | ہے بڑی دولت اے نانائے حُسَین(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): د سَیِّدانو صاحبانو سره د محبت فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ آیت مبارک واوریدو، اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي:

اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰىؕ وَ مَنْ یَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِیْهَا حُسْنًاؕ

(پاره: 25، سورۃُ الشُّوریٰ: 23)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مګر د خپلوۍ محبت او څوک چې نیک کار اوکړي مونږ به د هغهٔ د پاره پهٔ هغې کښې نور ښه والے هم زیات کړو۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا هم د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نِسبت فیضان دے، د اهلِ بیتِ پاک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم محبت ضروري دے، د سَیِّدانو صاحبانو ادب او احترام پهٔ مونږ باندې فرض دے او ولې فرض دے؟ صرف دې د پاره چې دا زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آل اولاد دے۔

## آیا څوي له دې هم دا سعادت ورکړو؟

علامه یوسُف اِسماعیل نبهاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه لیکلي دي: پهٔ عِراق کښې یو مالداره ګس اوسیدو، هغه به د سَیِّدانو صاحبانو ډیر عزت کولو، د هغهٔ محفل ته چې به چا سَیِّد صاحب

1... وسائلِ بخشش، صفحه: 257۔

تشریف راوړو نو هغوئي به یـې د ټولو نه پهٔ اوچت ځائے کښې کښېنول، ډیر عزت او اِحترام به یـې کولو، یو ځل داسې وشول چې د هغهٔ پهٔ محفل کښې یو ډیر تعلیم یافته اِنسان ناست وو، پهٔ دې کښې یو سَیِّد صاحب هم تشریف راوړلو، بیا سَیِّد صاحب د ټولو نه پهٔ اوچت ځائے کښې کښېنولے شو، هُغه چې کوم ډیر تعلیم والا ګس وو، پهٔ هغهٔ د سَیِّد صاحب داسې پهٔ اوچت ځائے باندې کیناستل بد ولګیدل (د هغه دا خیال وو چې د تعلیم یافته خلقو ډیر عزت پکار دے) او هغهٔ پهٔ خُله باندې د دې بد لګیدو اِظهار هم اوکړو- هُغه مالداره ګس کوم چې د محفل مشر وو، هغهٔ هُغه وخت خو خاموشه پاتې شو، څهٔ وخت پس چې دا خبره راغله، مالداره ګس د هُغه تعلیم یافته ګس نه پوښتنه اوکړه: حضرت! ستاسو ځوي هم شته؟ وه یـې وئیل: آؤ! ځوي مې شته- پوښتنه یـې اوکړه: آیا هغه سبق وائي؟ وه یـې وئیل: آؤ جي! سبق وائي، فلانکي فلانکي کتابونه لولي- مالداره ګس پرې د خبرې پهٔ ګزار کولو ووئیل: تا د خپل ځوي د پاره داسې بندوبست ولې اونکړو د کوم سره چې هغه د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اولاد کښې شوے وے؟ تعلیم یافته ګس پهٔ غصه کښې ووئیل: دا سعادت خو صرف د اللّٰه پاک پهٔ کرم سره میلاؤیدے شي، د کتابونو نه خو نهٔ نصیب کیږي؟ د محفل مشر هغه ورټلو او وه یـې وئیل: اے کم عقله! چې تا ته دا خبره معلومه ده نو تا د سَیِّد صاحب پهٔ اوچت ځائے باندې پهٔ کیناستو د بد لګیدو اِظهار ولې اوکړو---؟ بے شکه د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولاد نِسبت هُغه سعادت دے، کوم چې د کتابونو پهٔ لوستلو یا د عبادتونو د کولو سره نهٔ میلاؤیږي-[(1)]

---

[1]... شرف المؤبد، فصل فی جملة آثار و قصص فی ا کرام السلف...الخ، صفحه:105۔

نُور کی کرنیں ہیں ضوفشاں ہر فرد میں
نُور کے سانچے میں خالق نے ہیں ڈھالے اَہْلِ بیت
بچہ بچہ نُور کا ہے بالیقیں سادات کا
نُور کے صدقے میں سارے نُور والے اَہْلِ بیت

اللّٰه پاک دې مونږ ته د سَيِّدانو صاحبانو د اَدَب او د اِحترام کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيۡنۡ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د هٔغه وخته پورې مؤمِن نشي کيدے

سرکارِ نامدار، د دواړو جهانو مالک او مختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ نَفْسِهٖ يو بنده هم د هٔغه وخته پورې مؤمِن نشي کيدے تر څو چې زهٔ هغهٔ ته د هغهٔ د ځان نه زيات محبوب نشم- وَذَاتِيْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ ذَاتِهٖ او زما ذات هغهٔ ته د خپل ذات نه زيات محبوب نشي- وَتَكُوْنَ عِتْرَتِيْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ عِتْرَتِهٖ او زما اولاد هغهٔ ته د خپل اولاد نه محبوب نشي- وَاَهْلِيْ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ اَهْلِهٖ او زما اهلِ بيت هغهٔ ته د خپل کور والؤ نه زيات خوښ او محبوب نشي- (1)

## د اللّٰه پاک د محبت نخښه

پهٔ يو روايت کښې دي: خوک چې د اللّٰه پاک سره محبت ساتي، هغه د قرآن سره محبت

[1] ...شعب الایمان، باب فی حب النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، فصل فی براۃ ...الخ، جلد:2، صفحه:189، حدیث:1505۔

ساتي او څوک چې د قرآن سره محبت ساتي هغه زما سره محبت ساتي او څوک چې زما سره محبت ساتي هغه زما د اصحابو او خپلوانو سره محبت ساتي- (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** معلومه شوه چې د صحابۀ کرامو او اهلِ بيت رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم سره محبت ساتل د عشقِ رسول نتيجه ده، د مؤمن بنده نخښه دا ده چې هغه د الله پاک سره محبت کوي، د الله پاک سره د محبت کوونکي نخښه دا ده چې هغه د قرآنِ کريم سره محبت کوي او د قرآنِ کريم سره د محبت کوونکي نخښه دا ده چې د هغۀ په زړۀ کښې د محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت وي او د چا په زړۀ کښې چې محبتِ رسول موجود دے، د هغۀ نخښه دا ده چې هغه د صحابۀ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان سره هم محبت کوي او هغه د اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم سره هم محبت کوي- د دې ټول تعلق ميلاوهلو نتيجه دا راوختله چې د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم محبت د مسلمانۍ نخښه ده-

اَہلِ سُنّت کا ہے بیڑا پار اَصحابِ حُضُور
نجم ہیں اور ناؤ ہے عِتْرت رسولُ اللہ کی (2)

**وضاحت:** يعنې زمونږه د عاشقانِ رسول بيړۍ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! په دنيا، قبر، قيامت، پل صراط هر ځائے کښې پار ده ځکه چې د الله پاک په فضل سره مونږ د هدايت د ستورو يعنې د صحابۀ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان سره محبت کوو او د فتنو د طوفان نه د بچ کولو والا کشتۍ يعنې

---

[1]... صواعق المحرقة، الباب الحادی عشر، المقصد الثانی فيما تضمنه تلک الآية...الخ، صفحه:214۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:153۔

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولاد مبارک سره هم محبت کوو۔

## د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب موندونکے خوش قِسمته

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما نه روايت دے، سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې زما د صحابؤ سره، زما د ازواجِ پاک (يعني اُمهات المُؤمنين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُنَ) سره او زما د اهلِ بيتو سره عقيدت لري، پۀ دوئي کښې د چا هم بد نۀ وائي او د دوئي پۀ محبت باندې د دنيا نه رخصتيږي، هغه به د قيامت پۀ ورځ زما سره وي۔ (1)

## د اهلِ بيتو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم د عاشقانو جَنَّت ته د داخليدو نظاره

د اِمام عالي مقام، اِمام حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے: يوه ورځ حضرت مولٰی علي شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د مالکِ جَنَّت، قاسمِ نعمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضر شو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے علي! هُغه 4 کسان کوم چې به مخکښې جَنَّت ته ځي پۀ هغوئي کښې يو زۀ يم، يو تۀ يې او 2 ستا ځامن حَسَن او حُسَين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما دي، زمونږ اولاد به پۀ مونږ پسې وي او پۀ هغوئي پسې به زمونږ بيبياني وي۔ حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زمونږه ډله (يعني زمونږ سره محبت کوونکي) به چرته وي؟ وه يې فرمائيل: ستاسو ډله به پۀ تاسو پسې شاته جَنَّت

[1]... رياض النضرة، الباب الاول، ذكر ما جاء في الحث على حبهم والاحسان...الخ، جز: 1، صفحه: 21۔

ته ځي- [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے---!! لږ تصور خو اوکړئ چې هغه به څومره ښکلې نظاره وي، زمونږ د ځان نه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ، حضرت مولىٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او حسنینِ کریمین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا به په یو ځائے جَنَّت ته داخلیږي، په دوئي پسې به شاته شاته ساداتِ کرام وي او که الله پاک وغوښتل نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! مونږ د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عاشقان به په هغوئي پسې شاته شاته جَنَّت ته ورسیږو-

باغِ جنّت میں مُحَمَّد مسکراتے جائیں گے
پُھول رحمت کے جھڑیں گے، ہم اُٹھاتے جائیں گے

## د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم سره د محبت مختلف اندازونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک دې زمونږ هم د اهلِ بیت پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم سره کامِل محبت نصیب کړي- زمونږه اسلافو، د دِین بزرګانو، د الله پاک نیکانو بندګانو به په داسې کمالي انداز کښې د سَیِّدانو صاحبانو اَدب کولو چې واه---!! سُبْحٰنَ الله!

◈ شیخ اِبراهیم رامپوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ یو بزرګ تیر شوے دے، هغوئي سَیِّد پور کرنال ته تشریف یوړلو، هلته یې استوګنه اِختیار کړه، هلته د راتللو نه پس به هغوئي په کټ کښې

[1]... تاریخ ابن عساکر، رقم:1566، حسین بن علی ابی طالب رَضِیَ اللّٰہُ عنہما، جلد:14، صفحه:169-

نۀ څملاستو، خلقو د دې د وجهې پوښتنه اوکړه نو وه یـې فرمائیل: پۀ دې علاقه کښې ځینې سَیِّدان صاحبان داسې هم دي چې د هغوئي سره کتونه نشته، هغوئي پۀ زمکه باندې څملي، چې سَیِّدان صاحبان (پۀ خپلو کورونو کښې) پۀ زمکه باندې ارام فرمائي نو زۀ پۀ کټ کښې څنګه ښپې کیږدم، دا د ترک ادب دے۔

◈ شیخ اِبراهیم رامپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به پۀ باغ کښې د جَامَنو د ونې لاندې پۀ عبادت کښې مصروف وو، بعضې وخت به ماشومانو سَیِّدانو صاحبانو باغ ته تشریف راوړلو، پۀ باغ کښې به یـې د ونو میوې پۀ کاڼو باندې ویشتلې او بیا به یـې خوړلې، کله به شیخ اِبراهیم رامپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ کاڼي باندې ولګیدو نو هغوئي به هغه سعادت ګڼلو، د څۀ مودې پورې خو هغوئي پۀ دې معامله باندې صبر کولو خو اخر یـې برداشت ختم شو نو سَیِّدانو صاحبانو ته خو یـې هیڅ وه نۀ وئیل خو ونو ته یـې وفرمائیل: اے ونو--!! زما سره د سَیِّدانو صاحبانو د ادب فِکر دے، هغوئي ته زۀ هیڅ نشم وئیلے، تاسو بیا میوه مۀ کوئ! د هغه ورځې نه پس ونو میوه اونکړه۔ [(1)]

◈ شیخ اَمَان پاني پتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم یو نیک بزرګ تیر شوے دے، هغوئي فرمائي: زما پۀ نزد درویشي د 2 څیزونو نوم دے: (1): ښه اَخْلاق (2): د اهلِ بیتو محبت۔ یعنې د کوم خوش قِسمته چې دا دوه نعمتونه نصیب شول، هغه اوچت مقام حاصلوي۔ پۀ اَخبَارُ الاَخیَار کښې شیخ عبد الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي: د شیخ اَمان پاني پتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

[1]... اقتباس الانوار، صفحه: 744 و 745 خلاصةً۔

عادت مبارک وو، کله چې به هغوئي سبق ښودلو او په هغه وخت کښې به څوک سَیِّد صاحب په لوبو کولو کوڅې ته تشریف راوړلو نو هغوئي به خپل کتاب کیښودو او د ادب نه به ودریدو، د څو پورې چې به سَیِّد صاحب موجود وو، هغوئي به هم هغه شان ولاړ وو- (1)

◈ اعلیٰ حضرت اِمام اهلسُنَّت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به هم د سَیِّدانو صاحبانو ډیر ادب کولو، یو ځل یو سَیِّد صاحب کوم چې په مالي لحاظ سره غریب وو، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه کور ته یې تشریف راوړلو او په دروازه کښې ودریدو او اواز یې اوکړو: څهٔ ورکړئ سَیِّد له---!!

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې څنګه اواز واوریدو نو په تادۍ یې د پیسو والا بکسه راواخسته او تشریف یې راوړلو، په هغې کښې نوټونه هم وو، سِکې هم وې، را یې وړې او زر یې د سَیِّد صاحب مخې ته حاضرې کړې او په ادب سره ودریدو- هغه سَیِّد صاحب د څهٔ وخته پورې پیسو ته کتل، بیا هغوئي د هغې نه یوه چوانۍ (یعنې د 25 پیسو سِکه) واخستله- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه عرض اوکړو: حُضُورا! دا ټولې حاضرې دي- سَیِّد صاحب وفرمائیل: زما د پاره دومره کافي دي- دا یې ووئیل او سَیِّد صاحب تشریف یوړلو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ورسره هم روان شو، د کوڅې پورې ورسره لاړو او رخصت یې کړو- بیا یې کور والؤ ته تاکید اوکړو چې بیا د پاره سَیِّد صاحب ته د اواز کولو ضرورت پېښ نشي، کله چې سَیِّد صاحب ووینئ نو فوراً نذرانه پیش کوئ- (2)

---

[1]... اخبار الاخیار، شیخ امان پانی پتی رَحمةُ اللهِ عَلَيۡه، صفحه: 241 ملتقطًا-

[2]... حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد: 1، صفحه: 233 خلاصةً-

## د سَيِّدانو صاحبانو يو څو آداب

د الله پاک پۀ نيکانو بندګانو کښې يو نوم د حضرت علي خوَّاص رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ هم دے، هغوئي هم ډير د کمال وَلي وو، د سَيِّدانو صاحبانو پۀ ادب به يـې ډير زور راوړلو، فرمائي: د سَيِّدانو صاحبانو پۀ حقونو کښې دا هم دي چې مونږ پۀ هغوئي باندې خپل ځان قربان کړو ځکه چې دا د حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ځيګر ټوټې دي ◈ د سَيِّدانو صاحبانو پۀ آدابو کښې دي چې د هغوئي پۀ مخکښې ځان ته نۀ ګورې (يعنې د هغوئي پۀ مخکښې ډيره عاجزي اِختيار کړې، خپل ضرورتونه پۀ هغوئي باندې قُربان کړې) ◈ ځان له پۀ هغوئي باندې ترجيح ورنکړې ◈ که سَيِّد صاحب بې عِلمه هم وي، بيا دې هم د هغوئي ادب اوکړے شي ◈ **حضرت علي خوَّاص** رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ **نور فرمائي**: پۀ خپلو خواهشاتو باندې د سَيِّدانو صاحبانو رضا له ترجيح ورکوئ او د هغوئي پوره ادب کوئ او کله چې هغوئي پۀ زمکه باندې ناست وي نو پۀ کټ کښې هيڅکله هم مۀ کښينئ۔ [1]

## د سَيِّد نوم نذرانه

خواجه غُلام فريد رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ډير لوئي بزرګ تير شوے دے، يو ځل چا د لندن نه يوه ګړۍ راوړله او د هغوئي پۀ خِدمت کښې يـې پيش کړه، ډيره قيمتي ګړۍ وه، پۀ هغې باندې ډيرې آلې هم لګيدلې وې، د موسم پۀ باره کښې معلومات، د زول او زلزلې پۀ باره کښې معلومات او د قبلې اړخ وغيره هر څۀ به د هُغه ګړۍ پۀ ذريعه سره معلوميدے شول، د

---

[1]…تنويرالازہار ترجمه نور الابصار، جلد:1، صفحه:363و 364 خلاصةً۔

هغه وخت پهٔ لحاظ سره تقریباً د 25 نه د 30 زرو روپو د هغه کړې قیمت وو-

یو ځل یو سَیِّد صاحب وفرمائیل: دا کړې ما له راکړئ! خواجه غُلام فرید رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فوراً کړې پیش کړه- چا مُرید ورته عرض اوکړو: حُضُور! دا ډیره قیمتي او نایابه کړې وه، داسې کړې بیا چرته نشي میلاؤیدے- تاسو به سَیِّد صاحب له څهٔ پیسې ورکړے وے، کړې به مو نهٔ ورکولے او هسې هم څهٔ پته لګي چې هغه واقعې سَیِّد وو او که نهٔ؟ خواجه غُلام فرید رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ وفرمائیل: ما د سَیِّد نوم (یعني د لفظ سَیِّد) پهٔ ادب کښې نذرانه پیش کړې ده، د سَیِّد د ذات د نذرانې پیش کولو طاقت پهٔ ما کښې چرته دے---؟ (1)

سُبۡحٰنَ اللہ! دا دي د سَیِّدانو صاحبانو آداب---!! الله پاک دې زمونږه د اهلِ بیتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُم ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم د آل سره ښه ډیر محبت کول، د هغوئي ادب او احترام کول نصیب کړي- اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم

## د اهلِ بیتو رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُم رښتونے عاشق څوک---؟

پهٔ اخره کښې یو اهم وضاحت واورئ! مونږ ته د اهلِ بیتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُم سره محبت کول پکار دي خو د اهلِ بیتو رښتونے محبت څهٔ ته وئیلے شي؟ پهٔ دې هم ځان پوهه کړئ! **روایت دے:** یوه ورځ حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُ خطبه ورکوله، پهٔ دې کښې اِمام عالي مقام امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُ تشریف راوړلو، حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُ زر خطبه مکمل کړه او د منبر نه ښکته راکوز شو، بیا امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُعَنۡہُ منبر ته تشریف یوړلو،

---

1...انوارِ قمریه، صفحه: 290۔

هغوئي د الله پاک حمد او ثنا بیان کړله، بیا یې وفرمائیل: ما ته زما نیکه بابا ووئیل چې الله پاک فرمائي: د عرشِ اعظم د ښېې لاندې د شین رنګ یوه تختۍ ده، په هغې باندې لیکلي شوي دي: اے د آلِ محمد ډلې! په تاسو کښې چې څوک هم د قیامت په ورځ باندې د لَآاِلٰہَ اِلَّااللّٰہ د ګواهۍ سره راځي، الله پاک به هغه جَنَّت ته داخلوي۔

دا یې چې واوریدل نو حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پوښتنه اوکړه: اے ابو عبد الله (یعني اِمام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ )! د آلِ محمد ډله کومه یوه ده؟ وه یې فرمائیل: هُغه کومه چې شَیخَین یعني ابو بکر او عمر ته، عثمانِ غني (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم) ته، زما والدِ محترم مولٰی علي (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) ته او اے معاویه! (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ) تاسو ته رد بد نه وائي، هغه د آلِ محمد ډله ده۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې څوک د صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان هم ادب کوي، د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلورو یارانو ادب هم کوي او د خالُ المُؤمِنین (یعني د ټولو مسلمانانو د ماما ) حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خلاف هم خُله نۀ برسیره کوي، هغه د اهلِ بیتو ربنتونے عاشق دے۔

الله پاک دې مونږه د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ پاک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ادب کوونکي، ربنتوني عاشقان جوړ کړي او د هغوئي د دښمنۍ او ګستاخۍ نه مو دې همیشه محفوظ وساتي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

محفوظ سَدا رکھنا شَہا! بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو [2]

---

[1]… تاریخ ابن عساکر، رقم:1566، حسین بن علی بن ابی طالب رَضِیَ اللّٰہُ عنہما، جلد:14، صفحہ:114۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحہ:315۔

## د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په کوته کول)

**مسئله:** د قبر بے ادبي او سپکاوے ناجائزه او ګناه ده-

**وضاحت:** د مُحرَّم شریف میاشت ده، په دې میاشت کښې خاص طور په 10 مُحَرَّم په عامه توګه خلق هدیرې ته ځي، ښه خبره ده، تلل پکار دي، د عبرت او د نصیحت د پاره هدیرې ته تلل د سُنَّتو نه ثابت دي- البته په دې کښې د هدیرې د آدابو خیال ساتل ډیر ضروري دي- ◈ په قبر باندې ښپې کیښودل، په دې باندې کیناستل ناجائزه او ګناه ده [(1)] د دې سره مړي ته تکلیف رسي- په **حدیثِ پاک** کښې دي: د په سکروټه باندې کیناستل په قبر باندې د کیناستو نه بهتر دي- [(2)] **په یو روایت کښې فرمائي:** مړي ته په قبر کښې د هغې خبرې نه تکلیف وي، د کومې نه چې په کور کښې تکلیف رسَیِّدلو- [(3)] مثلاً په چا باندې چې ښپې کیږدې نو هغه ته به تکلیف رسیږي، دغه شان چې په قبر باندې ښپې کیږدې نو په دې باندې به هم مړي ته تکلیف وي- لهذا چې هدیرې ته ځئ نو د دې خبرو خیال ساتل پکار دي ◈ بعضې وخت په هدیره کښې نوې لاره ویستلے کیږي، علمائے کرام رَحِمَہُمُ اللّٰہُ عَلَیْہِم فرمائي: په هدیره کښې چې کومه نوې لاره ویستلے شوې وي په هغې

---

[1]... فتاوٰی رضویه، جلد:9، صفحه:436 خلاصةً-

[2]... مسلم، کتاب الجنائز، باب النهی عن الجلوس علی القبر والصلاة الیه، صفحه: 347، حدیث: 971-

[3]... مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:199، حدیث:754-

باندې تلل حرام دي [1] ◈ هديرې ته دننه د تللو د پاره كه لار نۀ وي او د قبر پورې د تللو د پاره د قبرونو د پاسه تيريدل وي نو تلل منع دي، حُكم دے چې بهر دې ودريږي او فاتحه دې ولولي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احكامو د زده كولو او پۀ هغې باندې د عمل كولو توفيق راعطا كړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ بركتونه (وظيفه)

### يَا بَاقِی (اے هميشه باقي اوسيدونكيه!)

څوک چې د نمر راختو نه مخکښې 100 کرته يَا بَاقِی لولي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د غمونو نه به محفوظ وي- [3]

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... فتاوىٰ رضويه، جلد:9، صفحه:443 بتغير قليل۔

[2] ... بهارِ شريعت، حصه:4، صفحه:848 خلاصةً۔

[3] ... مدنى پنج سورة، صفحه:259۔